باقی سمندر

یازدهم میزان /شهریور سال ۱۳۹۰ خورشیدی

سوم اکتوبر سال ۲۰۱۱ میلادی

## متن سخنرانی امروزه حامد کرزی رییس جمهور افغانستان



## د سولې په اړه د افغانستان د حکومت د تگلارې په باب د جمهور رئیس حامد کرزي د وینا متن

شما بهتر میدانید که سرزمین افغانستا ن و روابط دولت جمهوری اسلامی افغانستان در جریان چند روز اخیر و متاثرشدن از قتل های زنجیره ای به ویژه بعد ازبه شهادت رسیدن پروفیسور برهان الدین ربانی و سخنرانی های سران ایالات متحده امریکا – سفرای ایالات متحده امریکا وبریتانیای کبیر

مصاحبه های وزیر خارجه دولت پاکستان خانم حنا ربانی گهر و به تعلیق آوردن وجواب رد دادن به سفر آقای گیلانی نخست وزیر پاکستان به افغانستان ورد دیدو وادید های سه جانبه امریکا – افغانستان و پاکستان و سفر رییس جمهور کرزی به کشور هند وبرگشت دو باره وی و سفرآقای کراکر سفیر ایالات متحده امریکا به ولایت بلخ و .... همه مسایل اند که در سیاست داخلی وخارجی افغانستان تاثیر بسزایی گذاشته است وهمه نیاز به بررسی وارزیابی بسیارژرف دارند که دراین وقت کوتاه نمیتوانم به همه مطالب ایکه در بالا یاد کردم – بپردازم اما سخنرانی امروزه حامد کرزی را با شما بخوانش میگیریم .

امروز حامد کرزی رییس جمهور افغانستان سخنرانی ای ایراد کرده است که در پایان برای شما منتشر میگردد تا خوانندگان ارجمند و منتقدین گرامی همه زوایای این سخنرانی را مورد ارزیابی همه جانبه قرار بدهند .

**د سولې په اړه د افغانستان د حکومت د تګلارې په باب د جمهور رئیس حامد کرزي د وینا متن**

**د خپرېدو نېټه Oct 03, 2011 :**



**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على خاتم النبيين**

**گرانو هيوادوالو ؛**

**د افغانستانغيور اوصبور ملته !**

**السلام عليكم و رحمة الله و بركاته،**

زموږ په هيواد کې د نوې مرحلې له پيله لس کاله تيريږي. هغه مرحله چې د طالبانو له سقوط سره سم پيل سوه او د افغانستان اسلامي جمهوريت تاسيس سو.

د معارف، صحت، اقتصادي پراختيا، قانون جوړونې، د زيربناوو د احيا او د هيواد د بياجوړونې په نورو حوزو کې له ټولو سترو کاميابيو سره سره، له بده مرغه سولې او امنيت ته درسيدو په برخه کې زموږ د خلکو ستره آرزو پوره نسوه.

ځنګه چې مې دمخه هم ویلي وو، سږکال د افغانستان لپاره اساسي او حیاتي اهمیت لري. زما په پوهه سږکال سرنوشت جوړوونکی کال دی.

له یوې خوا موږ پر مهم کنفرانسونه، لکه: استانبول او بن مخې ته دي او له بلې خوا د مسوولیت د انتقال د جریان له پیلیدو سره سم د حکومتدارۍ، د امنیت تامین او د افغانستان د انکشافي پروژو د تحقق لپاره هم هوډمن یو، څو له هیواده د خارجي قواوو د وتلو زمینه برابره کړو او د 2014 م کال ترپایه له هر ډول محدودیتونو پرته په خپلو پښو و دریږو.

سږکال مو د امریکا د متحده ایالاتو سره د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو د تړون په منظور، له دې هیواد سره مذاکرات پیل کړي دي. که چیرې د افغانستان شرایط او غوښتنې چې مهمې پکې د افغانستان د عام و تام حاکمیت تحقق او د متوازې ساختارونو له منځه وړل دي پوره سي او زموږ د هیواد عنعنه یی لویه جرګه یې حمایت وکړي، موږ به دا سند امضاء کړو.

بې له شکه چې سراسري سوله او امنیت زموږ د ملت یوه سپیڅلې آرزو ده. موږ په افغانستان کې د سولې د تامین لپاره په ښه نیت کوښښونه پیل کړل، څو د خبرو او تفاهم له لارې خپل هیواد ته سوله راولو.

د سولې شهید، درونډ استاد پروفیسور برهان الدین رباني تر مشرۍ لاندې د سولې عالي شورى په دې لاره کې ډیر زیار وکیښ او د لندن او کابل په کنفرانسونو کې نړیوالې ټولنې هم د افغانستان د سولې د تامین هیله تائید کړه او له دې پروسې سره یې د مادي او معنوي حمایت ژمنه وکړه.

اما له بلې خوا زموږ د هیواد دسولې او امنیت دښمنان، له خارجي هیوادونو سره ټولې تروریستي او ویره اچوونکي شبکې، ترور، خشونت او وژنې کوي، له تخریب او ورانیو لاس نه اخلي. زموږ هیوادوال، دیني رهبران، سیاسي، قومي او روحاني مشران وژني.

په وروستیو میاشتو کې د ملي شخصیتونو او جهادي رهبرانو ترور د خلکو نګراني زیاته کړې ده.

د افغانستان خلك او سیاسي فعالان د هیواد د دورنما او آینده تحولاتو په اړه پرځای او په حق پوښتنې لري، زما په پوهه زموږ د خلکو نګراني پرځای ده.

د افغانستان د پخواني جمهور رئیس او د سولې د عالي شورى د مشر استاد برهان الدين رباني، د شمال زون د قوماندان جنرال داود داود، د تخار د امنيه قوماندان جنرال شاه جهان، د کندز د والي انجنير محمدعمر، دکتوردجهادی قوماندان ملک زرين، دباميانو دولايتی شورا رئيس جواد ضحاک، د کندز د امنيه قوماندان جنرال عبدالرحمن سيدخيلي، دکندهار د امنيه قوماندان جنرال خان محمد مجاهد،د ولسي جرگې غړی محمدهاشم وطنوال،په قبايلي چاروکې مشاور وزيرجان محمدخان، دکندهار د ولايتي شورى رئيس احمدولي کرزي، د کندهار د علماوو شوری رئیس مولوي حکمت الله حکمت، د کندهار ښاروال غلام حيدر حميدي او د دې خاورې د نورو ډيرو وطندوستو او زړه ورو بچيانو شهادت موږ ته راښيي چې د افغانستان د سوله غوښتنې ږغ مثبت ځواب نه دی موندلی.

سوله او امنيت د ملتونو د ژوند يو منل سوی اصل او د عادي ژوندانه نخښه ده، حال داچې جنگ او نا امنی يو استثنايي حالت دی. د همدغه حقيقت له درک سره موږ تل هڅه کړې ده چې له هر امکانه په استفاده هيواد ته سوله راولو.

زموږ آرزو همدا وه او همدا ده، څو خپلو خلکو ته د امن او سولمن ژوندانه زمينه برابره کړو. خو دطالبانواو ددوی د حاميانو ځواب ترور او وژنه وه او ده.

يو جانبه سوله غوښتنه سوله نه راولي، سوله له هغه مقابل لوري سره معنی او مفهوم لري چې پر سوله باور ولري. له همدې امله د افغانستان دولت مسووليت لري چې د افغانستان د استقلال او سولې له دښمنانو سره قاطع مبارزه وکړي.

افغانستان په تيرو پنځو کلونو کې د پاکستان اسلامي جمهوريت سره د ټينگې ورورۍ او دوستۍ ډير روښانه او صادقانه کوښښونه وکړه چې په بشپړ احترام سره په سياسي، اجتماعي، اقتصادي او نورو برخو کې د متقابلو روابطو د تقويی اهداف پکې نغښتی وو.

شخصاً ما خپله پردې واقعيت تاکيد کړی دی چې افغانستان او پاکستان نه بيليدونکی ورونه دي او تل مې دا يادونه کړې ده چې افغانستان هيله لري څو دا دواړه هيوادونه د همکارۍ، مرستې او ورورۍ په فضا کې ژوند ولري. د پاکستان له جوړيدو تر اوسه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تفاهم او نژديوالي داسې واضح هڅه نه وه سوې.

شك نسته چې د پاکستان ورور ملت زموږ د سولې د هڅو ملاتړ کړی دی او دا مو هيله ده چې د پاکستان حکومت هم ددغو هڅو حمايت وکړي.

ما څو ځله دا يادونه کړې ده چې د تروريزم آفت نه يوازې د افغانستان لپاره مصيبت دی، بلکه ډير ژر به د پاکستان لمن هم ونيسي، له بده مرغه چې همداسې وسول. خو له دې ټولو ورانيو، بدبختيو او مصايبو سره سره چې زموږ د هيواد او پاکستان لمن يې ټينګه کړه، د افغانستان په وړاندې دوه ګونې لوبې او له تروريزم څخه د وسيلې په توګه استفاده دوام لري. د پاکستان اسلامي جمهوريت په افغانستان کې د سولې او امنيت د تامين په برخه کې له موږسره همکاري نه ده کړې چې زموږ لپاره د تاسف وړ خبره ده.

موږ هيله من يو چې د پاکستان حکومت د خپلو خلکو منفعت درك کړي او دواړو هيوادونو ته د سولې او امنيت په راوستو کې زموږ همکار سي.

**هموطنان عزيز، خواهران و برادران!**

ده سال گذشته در عين زمان سال های جدال ميان ما و نيروهای ناتو بر سر روش های درست مبارزه با تروريزم بوده است.

ما در فرصت های بی شمار تلاش کرديم که ناتو و ايالات متحده امريکا را متوجه بسازيم تا با لانه ها و منابع تروريزم مبارزه کنند.

جنگ عليه تروريزم در دهات و خانه های مردم افغانستان نبوده، بلکه مبارزه راستين با آن با تمرکز گسترده و همه جاگير بر جايی که تروريستان در آنجا پرورش می يابند، دارای معنی و مفهوم می باشد.

عدم توجه به منابع تروريزم در ده سال گذشته به بهای خون هزاران انسان بی گناه وطنما تمام شد.

**خواهران و برادران هموطن!**

امسال برای ما افغان ها، سال بسيار مهم و در عين زمان پُر از خطر و تهديد می باشد.

اين سرزمين بزرگ يکی از کهن سال ترين کشورهای جهان و مهد تمدن های بزرگ بوده است.

امروز زمان آن است تا بزرگان، نخبگان سیاسی و نظامی، علما، روشنفکران، بزرگان قوم و مردمان شهر و ده و تمام افراد این کشور متحداً با یکدیگر برای دفاع از استقلال، تمامیت ارضی، دفاع از دست آورد های ده سال اخیر و قانون اساسی کشور، عمل نمایند.

اگر چه دولت ما در نتیجه جنگ های سی ساله ومداخلات خارجی ضعیف ساخته شده است، اما ملت ما یکی از نیرومند ترین ملت های جهان است.

وحدت ملی و روحیه ایثار و جانبازی برای حفظ و حراست از این خاك مقدس با خون باشندهگان این سرزمین عجین شده است.

آرزوی من این است تا ما با نمایش تحکیم وحدت ملی در زیر درفش پُرافتخار افغانستان، به دشمنان استقلال و آزادی این کشور یك بار دیگر نشان دهیم که افغانستان سرزمین جاودانی است.

**هموطنان عزیز!**

ما باید پاسدار خون صدها هزار از فرزندان مسلمان این کشور باشیم که جان های شیرین شان را در سی سال گذشته در راه آزادی و استقلال افغانستان نثار کرده اند.

یقین کامل دارم که فرزندان این آب و خاك در این راه از هیچ فداکاری دریغ نخواهند کرد.

**در این جا می خواهم یکباردیگر تأکید کنم که:**

1. صلح آرزوی مقدس مردم افغانستان می باشد و باید در جهت تحقق این آرزو همچنان تلاش کرد. اما باید تعریف کرد که با کیها صلح کنیم. روش های رسیدن به صلح باید مورد بازنگری قرار بگیرد.

2. ما در واقعیت با دولت ها طرف هستیم و نه با نیروهای وابسته به آنها، ازاین رو باید با طرف اصلی و صاحب صلاحیت گفتگو نماییم و طرف شویم.

3. ما ناگزیریم تا برای تأمین امنیت و دفع تجاوزات خارجی با منطقه و جهان بر پایهء منافع و مصالح ملی خود همکاری های استراتیژيك را تأمین کنیم.

4. درباره مسایل یاد شده و صلح و امنیت و نحوه برخورد ما با تجاوزات دوامدار بیرونی در لویه جرگه عنعنوی که انشاءاللهعنقریب دایر میشود، از نماینده گان مردم افغانستان طالب مشوره و هدایت میشویم و طبق خواست و آرزوی مردم افغانستان عمل خواهیم کرد.

از خداوند بزرگ می خواهم تا این ملت رشید را در پناه الطاف ربانی خود داشته و کشور تاریخی ما را از گزند دشمنان محفوظ بدارد.

**آمین یا رب العالمین**